بسم الله الرحمن الرحیم

# منځني سیاسي سیندګی


| | |
|---|---|
| لیکوال: | حکیم الدین منځنی |
| خپرندوی: | لیکوال خپرندویه ټولنه-ننګرهار |
| ډیزاین چارې: | وحید الله اسلام |
| چاپشمېر: | ۱۰۰۰ (یو زر) ټوکه |
| چاپ کال: | ۱۳۹۷ ل/۲۰۱۸ز |
| چاپ وار: | لومړی |

کتاب موندلو ځای:

**لیکوال** کتاب پلورنځی

پښتونستان واټ، عمران شګیوال پلازه، دویم پوړ، جلال آباد

۰۷۸۹۸۹٤۲٦۰



د دې کتاب د چاپ او پر ویب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

# د خپرندویه یادښت

لیکوال ویاړي چې د خپلې ټولنې د معنوي خدمت لپاره یې پر داسې یو ډاډمن لوري ګام پورته کړی چې پایلې یې په هیله بښونکې تسکین څرخي. په دې برخه کې زموږ تمه له هغو قدرمنو اکاډمیکو کادرونو څخه ده چې په علمي بهیر کې د خپل بېوزله ولس پر ځوانه روزنه خپله معنوي انرژي مصرفوي. په دې لړ کې له استاد حکیم الدین منځني نړۍ مننه چې پر لیکوال یې د خپل "سیاسي سیندګي" د چاپ باور وکړ، موږ استاد ته په دې برخه کې د لاغوړېدنې او هوساینې دعا کوو، ژوند یې ویاړمن او سوکاله اوسه.

**درنښت**

**لیکوال خپرندویه ټولنه**

# نوښتګر لیکوال

د لیکنو لړۍ مو په ټولنه کې الحمدلله د قلم خلک ډیر شوی، خو د قلم په خاوندانو کې مبتکرین اوس هم د ګوتو په شمار دي. د نوښتګرو لیکوالو صفت دا وي چې نوي څه وړاندې کوي اود لیکلو انداز یې هم نوی وي . دوي کولای شي داسې خلک هم په خپلو لوستونکو کې راولي چې کېدای شي کتاب د مطالعې لړۍ نه، بلکې د شوشا لړۍ له ځان سره ګرځوي.

منځنی صیب یو لدې نوښتګرو لیکوالو او د قلم له خاوندانو څخه دی. د نوموړي هر کتاب په نوې بڼه وړاندې شوی، چې لوستونکي یې په بیا بیا لوستلو نه ستړي کیږي.

ډیر کله چې یو څه وړاندې کوي له داسې بېلګو سره مل وي چې ذهنونو ته په اسانۍ لویږي. مثلاً یو وخت یې په خپل مخ کتاب لوستونکو ته د نارسیست او نارسیزم اصطلاح ورپېژندل غوښتل. په یو ښکلي او شین چاپېریال کې یې دکوټې په سر په پراته کټ کې داسې تصویر ویستلی ؤ، چې کالي یې هم غالباً نوي پر تن کړي ؤ او داسې متن یې ورسره لیکلی ؤ ((کله، چې سړی د اوبو ډنډ یا لوښي کې خپل ځان وګوري او ایسته یې په خپل ځان مینه را ماته شي، نو بیا څو وارې له لوښي او ډنډ تاو تاو کیږي، چې د خپل ښایست تماشه وکړي. په ځان د عاشق کېدو همدا حالت، چې هر وخت سړي کې نه راځي؛ نارسیزم او شخص ته یې نارسیست ویل کیږي.

د باران له درېدو وروسته یو دم نارسیست شوم. دا پورته ټول کونړ دی))

ستاسې په لاسونو کې د منځني صېب سیاسي سیندګی، چې د علمي هڅو تسلسل یې دی، له پورته ټولو ځانګړنو مالامال دی. ما دغه کتاب په دقیق ډول وکوت. د لوستلو لړۍ ډېر څه له ځانه سره لري. ستړي کوي مو نه او په بیا بیا لوستلو ارزي.

منځنی سیاسي سیندګی ډېرې ښېګڼې لري چې د نمونې په شکل یې یو څو ستاسې حضور ته ړدم:

لمړی، د سیاسي اصطلاحاتو پدې قاموس کې، هغه اصطلاحات چې له شرعي اړخه هم وضاحت ته اړتیا لري په ډېر منطقي ډول څېړل شوي، مثالونه او بېلګې یې وړاندې کړي. ګټه یې داده چې لوستونکي په ځانګړي ډول ځوان کهول له فکري انحرافه ژغوري.

دوهم، د سیندګي بله ځانګړنه نویتوب دی. په دغه ټولګه کې نوي او په زړه پورې اصطلاحات راوړل شوي، چې د سیاسي علومو ټولو لارویانو او علاقه لرونکو ته یې مطالعه او پرې پوهېدنه یو ضرورت ګڼم. هستوي ژمی، سیلابي بریا، ټوشي پېپر پالیسي، پرلت، بریګزیټ او دې ورته نور ډېر جالب او اړین اصطلاحات په خپله لمن کې رانغاړي.

دریم، د سیاسي جغرافیې اړوند ډېر مهم اصطلاحات پکې شته، لکه هندوچین، لرې ختیځ، بنانا ریپبلک، بالکان، او نور ... چې پرې پوهېدل مو په جیوپولیټیکي پوهه کې زیاتوالی راولي.

څلورم،په کتاب کې د پښتو لیکدود اصول مراعات شوي، ژبه یې نهایت ساده او روانه ده. هر لوستونکی ورځخه په اسانۍ استفاده کولای شي.

منځنی صېب کار پسې شخصیت دی، په علمي کارونو او د پښتو ژبې په غني کولو پسې یې متې رابډوهلي، د ستړیا احساس نه کوي. په دغه لږه موده کې یې ډېر کار کړی، له همدې امله یې په علمي خدماتو کې یې منځنی نه، لمړنی بولم، قلم یې تېز او ذهن یې له علمي پانګې پور مامور اوسه.

په پای کې د منځني صیب لپاره د اوږد او برکتي عمر لپاره لاسونه لپه کوم، ژوند دې یې رب له خوښیو ډک کړي. او سیندګی یې په سمندرګي بدل شه.

**نورالله نوري مجددي**

د الفلاح پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

# د سياسي ادبياتو ژمن لاروی

په معاصره پيړۍ کې زموږ د سياسي ادبياتو تر ټولو کمزوری ټکی د پخوا په څېر په زعامت کې د نالوستو حاکميت يا په عملي سياست کې د ګڼو نالوستو سياستمدارانو شتون دی چې د نورو برخو په څېر له دې اړخه هم خوار يو؛ ځکه چې موږ د جګړه ييز سياست اوږده مخينه لرو؛ خو ورسره دا هم بايد هېره نه کړو چې سياسي ادبيات د سياسي پېښو زېږنده ده چې له يو نه يو اړخه له جګړه ييز سياست سره تړاو لري. همدا سياسي پېښې او جګړه ييز سياستونه او تصاميم دي چې د نورو ملتونو سياسي ادبياتو ته يې پراختيا او لوړ تيا ورکړې، واکمنو او سياستمدارانو يې د خپل سياسي شعور په وېښتيا پر معاصرو اصطلاحاتو کارولو فکر کړی او مقابل لوري ته يې په ژبني لحاظ د خپل فکري نوښت مظاهره کړې ده او همدا يې بيا د بريا راز هم ښودل شوی دی.
په دې سربېره يوه بله تشه يا نيمګړتيا بيا په لوستې برخه کې لرو هغه دا چې ډېر کله له وخت سره برابر کارول شوو سياسي اصطلاحاتو ته پام نه دی شوی، يا يې سياسي ادبياتو ته داخلول بابېزه ګڼل شوي، يا داده چې د سم درک د نه شتون له امله اړونده اصطلاح له دې برخې سره تړاو لرونکې نه ده ګڼل شوې.
زه د دې خپلې خبرې د زبادولو لپاره په تازه وختونو کې د "پرلت" اصطلاح يوه ښه بېلګه ګڼم چې يو شمېر ادبپوهان مو دا اصطلاح يوازې فولکلوريکو ادبياتو پورې اړونده بولي؛ خو موږ ددې حالت شاهدان يو چې د منظور پښتين لخوا په کوزه پښتونخوا کې د پښتون قام د حقوقو لپاره کومه مبارزه پيل شوې، په خپل ذات کې يې "پرلت" ته سياسي رنګ ورکړی او دا اصطلاح يې زموږ په خوږې پښتو ژبه کې سياسي ادبياتو ته شامله کړه.
له نېکه مرغه چې اوس دې برخې ته يو شمېر ځوانو ليکوالو پام کړی چې ښه بېلګه يې د ښه قلم خاوند او شنونکی استاد حکيم الدين منځنی دی. نوموړی

ددغسې اصطلاحاتو له راټولولو سره ځانګړې مینه او لیوالتیا لري، وخت په وخت د ملي او نړیوالو سیاسي څېړو خولو ته غوږ، غوږ وي او تر خپله وسه یې هڅه کړې چې د معاصرې نړۍ په ځانګړې توګه د ۲۱ مې پیړۍ سیاسي ادبیاتو ته نوي راننوتي اصطلاحات راټول او په خپل ((منځني سیاسي سیندګي)) کې پرې د سیاسي علومو د لارویانو سوزنده تنده خړوبه کړي. که موږ د منځني صیب په څېر ویښ لیکوال او خپل مسلک ته ژمن د ګوتو په شمار څو تنه ربښتیني پالونکي هم ولرو؛ نو لرې نه ده چې پښتو ژبه به د نورو هغو په څېر په سیاسي برخه کې د احتیاج له پیغوره خلاصه او لوستونکي به یې د غوښنې ستې په شتون هسکه غړۍ وي.

ژوند یې په علمي ښایستونو ښکلی او سترړیا یې معنوي سیوري ته دمه شه

**محب الله یار**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د ادارې او دیپلوماسۍ څانګې امر

۶/۳/۱۳۹۷